د افغانستان اسلامي جمهوریت
جمهوری اسلامی افغانستان

د افغانستان د ځمکو اداره
اداره اراضی افغانستان

Islamic Republic of Afghanistan
Afghanistan Land Authority

# مطبوعاتي اعلامیه

# په تېرو دوو میاشتو کې څه د پاسه دوه سوه زره جریبه دولتي ځمکه سروې شوه

د افغانستان د ځمکو اداره د دولتي ځمکو معلوماتي بانک له لارې، په تېرو دوو میاشتو کې ټول ټال ۲۱۳۳۳۴ جریبه دولتي ځمکې او د دولت تر استفادې لاندې عامه ملکیتونه سروې کړې چې په تازه توګه د ۸۱۳۳۴ جریبه هغه په ۱۳ ولایتونو کې سروې شوه.

د ۸۱۳۳۴ ارقامو له ډلې، ۵۴۱۹۴ جریبه په پلازمینه کابل، ۱۵۷۲۷ جریبه په بلخ، ۳۵۰۰ جریبه په لوګر، ۲۲۵۷ جریبه په کندز، ۲۰۰۰ جریبه په تخار، ۱۱۲۴ جریبه په پکتیا، ۱۱۳۸ جریبه په ننګرهار، ۴۵۰ جریبه په کندهار، ۳۱۴ جریبه په سمنګان، ۲۵۰ جریبه په خوست، ۱۲۲ جریبه په میدان وردکو، ۲۰ جریبه په پروان او ۵۵ جریبه په سرپل کې سروې شوي دي.

د دولتي ځمکو او د دولت تر استفادې لاندې د عامه ملکیتونو سروې او ثبت، د ځمکو دقیقې احصایې ته د حکومت او خصوصي سکټور لاسرسی، د حکومت د پراختیایي، اقتصادي او ټولنیزو پروګرامونو او ټول ګټو پروژو ښه تطبیق، د پانګونې جذب، د ملي عوایدو ډېروالی او د دولتي ځمکو د غصب مخنوی د دولتي ځمکو معلوماتي بانک موخې دي.

د دولتي ځمکو معلوماتي بانک طرحه د ځمکوالی چارو تنظیم قانون پر اساس د افغانستان د ځمکو ادارې له خوا جوړه شوه چې بیا د ځمکو، اوبو او چاپیریال په عالي شورا کې د جلالتمآب محمد اشرف غنی د هیواد جمهور رئیس له خوا تایید او اوس په ۲۸ ولایتونو کې یې عملي چارې روانې دي.

د افغانستان د ځمکو ادارې د پلان له مخې په روان ۲۰۱۸ کال کې یو میلیون جریبه دولتي ځمکه او د دولت تر استفادې لاندې عامه ملکیتونه سروې، ثبت او د سمې ګټنې لپاره به چمتو کړای شي.

---

د زیاتو معلوماتو لپاره:
حشمت ناصري، د اطلاعاتو او عامه اړیکو رئیس
د افغانستان د ځمکو اداره
مبایل: ۰۷۰۵۵۰۰۵۵۵
بریښنالیک: Hashmat.nasiri@arazi.gov.af